ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

**بخت زمین شاہ**
ایم فل سکالر، پښتو څانګه، عبد الولي خان پوهنتون، مردان
**ډاکټر شکریه قادر**
اسسټنټ پروفیسر، پښتو څانګه، عبد الولي خان پوهنتون، مردان۔

# د علاقه سدهوم د منتخب اروانباد شاعرانو پېژندګلو او د کلام نمونې

**Bakht Zamin Shah***
M. Phil Scholar, Department of Pashto, Abdul Wali Khan University, Mardan.
**Dr. Shukria Qadir**
Assistant Professor, Department of Pashto, Abdul Wali Khan University, Mardan.
***Corresponding Author:** bakhtzaminshah344@gmail.com

## Biographical Insights and Poetic Selections of Distinguished Late Poets from the Sudhum Region

The Sudhum region, renowned for its fertile fields and abundant orchards, equally stands distinguished as a cradle of eminent poets, writers, and literary luminaries who have profoundly enriched the Pashto language and literature. Throughout their lifetimes, these late literary figures have rendered invaluable services to Pashto's linguistic and cultural heritage, bequeathing a rich legacy for future generations. Among these illustrious poets are Aman Akhun Gujrati, Amir Hamza Baba of Landi, Rahim Gul Baba, Abdul Ghafoor Akhgar, Syed Nawab Mama, Arif Naseem, Qiyas Gul Babo, Rizwan Shah Rizwan, Usman Din Usman, Fazal Akbar Nashtar, Shams-ur-Rehman Cheshti, and Nazir Yousafzai. This concise study presents brief biographical sketches of these distinguished personalities,

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28

ماخذ تحقیقی مجلہ

elucidates their literary contributions, and offers select samples of their poetic oeuvre, thereby highlighting their enduring impact on the corpus of Pashto literature.

**Key Words:** *Sudhum Region, Pashto Literature, Eminent Poets, Literary Contributions, Biographical Sketches, Pashto Language, Cultural Heritage, Poetic Oeuvre, Literary Legacy, Pashto Poets.*

سدهوم د ضلع مردان یوه زرخېزه او مردم خېزه علاقه ده ،که یو طرف ته دا علاقه د فصلونه او باغونه په لحاظ سره زرخېزه ده، نو بل طرف ته دې خاورې ډېر ننګیالي پښتانهٔ هم پېدا کړې دي- د دې علاقې ننګیالو او تُرزنو پښتنو د سوات د باباجي په مشرۍ کښې د پېرنګي سامراج خلاف جنګ کړے دے- د سدهوم د سیمې دې سربازانو، توریالو پښتنو پیرنګے سامراج د خپل اتحاد او وحدت په زور د مابڼ د دنګو غرونو په شا تنبولے دے او ډېر پېرنګیان ئې د امبېلې په مقام د لېوګانواو ګیدړانو خوراک کړې دي- دغه رنګ په ماضي کښې دې سیمې ډېرنامتوشاعران، ادیبان، لیکوالان هم زېږولےدي چې د پښتوژبې او ادب خدمت ئې کړئ دے او پښتو ادب ته ئې ډېر څه ورکړي دي- دلته د دې علاقې د یو څوارواښاد شاعرانو پېژندګلو او د کلام نمونې وړاندې کولې شي-

## ۱: امان اخون ګجراتې:

په اولسي شاعرۍ کښې یو ښکاره نوم د امان اخون ګجراتي دے- دې ستر شاعر د تحصیل رستم په ګجرات نومې کلي کښې د عبدالمجید ګجراتي په کور کښې سترګې پرانستې دي- خپل نوم ئې" امان بېګ" وۀ- خو د خپل کلي "ګجرات" د نوم په وجه په امان اخون ګجراتي مشهور وۀ- د زېږون صحیح نېټه ئې معلومه نه ده- خو په قبر ئې دپېدائش کال ۱۸۳۰ء او د وفات ۱۹۷۰ء لیکلے شوے دے-
پروفېسر اصغرنسېم لیکلي دي چې:

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28
ماخذ تحقیقی مجلہ

"امان اخون چې خپل نوم ئې امان بېګ وه په کال ۱۸۳۰ء کښې د مردان په مشهورکلي ګجرات کښې د عبدالمجید کره زېږدلے وۀ-
پخوا به علمي پوهه او هوښيار سړي ته اخوند وئيلے شۀ- دا تکے په عام اولس کښې اخون مستعمل شۀ- امان بابا ته د دغه وجې اخون وئيلے شي"- [۱]

دخېبرپښتونخوا ټېکسټ بُک بورډ پېښور لۀ خوا جاري شوي د څلورم ټولګي د پښتو کتاب،په سبق "اولسي شاعران" کښې د امان اخون بابا په حواله ليکلي شوي دي چې:

"د امان اخون خپل نوم ﷺ امان بېګ وۀ- په ۱۸۲۵ء کښې د ضلع مردان په ګجرات نومې کلي کښې زېږېدلے وۀ- په ۱۹۵۴ء کښې وفات شوے دے او په ګجرات کښې خاورو ته سپارلے شوے دے-" [۲]

د امان ګجراتي نمسے "فرزندعلي" وائي:
چې اکثرو ليکوالو د بابا تاريخ پېدائش او تاريخ وفات غلط ليکلي دي- ماته د ترلاسه شوي معلوماتو مطابق د هغۀ پېدائش د ۱۸۲۰او۱۸۳۰ ترمينځه دے-دغه شان د باباجي نوم ئې هم غلط ليکلے دے، د هغه خپل نوم امان بېګ وۀ- ﷺ امان بېګ نه وۀ-

په دغه زمانه کښې د تعليم حاصلو دومره رواج نه وۀ- خو دوي تر څلورم ټولګي عصري تعليم حاصل کړے وۀ- چې دا د دغه زماني لوے تعليم ګڼلي شو- امان بابا د صوابي دوبيانو نومې کلي په يوه مدرسه کښې ديني زده کړې د هغه وخت د يوسترعالم اخونزده بابا نه حاصل کړي وې- امان بابا يوخوش اخلاقه، دينداره، بزرګ او پرهېزګاره انسان وۀ- د نيزه بازۍ او ښکار

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28
ماخذ تحقیقی مجلہ

کولو شوق ئي هم لرلو- يو اس ئي ساتلي وۀ چي په اکثروختونو کښي به پرې د سکرې غر ته د ښکار دپاره تللو-

امان اخون فلبديع شاعر وۀ په شاعرئ کښي ئي د الله پاک او د رسول الله ﷺ سره مينه، پند او نصيحت ډېر په نظر راځي، اکثر کلامونه ئي صوفيانه دي- د پښتو ژبي سره سره ورته په فارسی ژبه هم عبورحاصل وۀ- د فارسی د يو شعر نمونه ئي دا ده:

هرگز نه شينده ام ز يک نفربيا بيا به بيس حال من که چه است

ځيني داستاتونه ئي د فارسی ژبي نه په منظوم شکل کښي پښتو ته ترجمه کړي دي چي په کښي "گل صنوبر"او "بهرام شهزاده" ډېر مقبول دي- د شاعرئ په مختلفو اصنافو ئي طبع ازمائي کړي ده چي په کښي غزل،چاربېته،نيمکئ،لوبه،رباعي،او منظوم داستانونه شامل دي- دغه کلامونه د پښتو مشهورو فنکارانو احمدگل،احمدخان،فضل ربي،وحيدگل، حبيب نور او يو شمېر نورو په خپلو خوږو اوازونو د موسيقئ سره وئيلي او په اډيوکېسټونو کښي مخفوظ دي-

په چاپ اثارو کښي ئي د گل صنوبر او بهرام شهزاده منظومي قيصی،هزارحېف لوک داستان، کلام اخوان او "زما بابا امان اخون يادونه او آثار" شامل دي-

د امان اخون نمسے فرزند علي د "کلام اخون" په سريزه کښي ليکلي دي چي:

> "د بابا د شاعرئ ځلور کتابونه، "گل صنوبر"،"بهرام شهزاده"،"هزارحيف بي بي" او "ملکِ محمدؐ" د هغۀ په ژوندانۀ په باعاقده توگه چاپ شوي او خوارۀ شوي وو- دغه ځلورکتابونه ما په کال ۱۹۶۵-۶۶ء کښي ډېر ډېر لوستلي وو-دغه

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28
ماخذ تحقیقی مجلہ

ځلوربېلي بېلي قيصي دي چې بابا په
شعرونو کښې ليکلي دي-"[3]

په تاتره رساله کښې پروفېسر اصغر نسيم ليکي
چې:

"امان اخون ډېره زمانه ليدلي وه او
د اووۀ شلو (۱۴۰) کالو په عمر کښې
په ۱۹۷۰ء کښې په حق رسېدلے وۀ"-[4]

فرزند علي د امان اخون د وفات په باب ليکي
چې:

"د امان بابا په دې دنيا کښې وخت
پوره شۀ او په ۲ جولائي ۱۹۷۰ء د دې
دارِ فنا نه دارِ بقا ته لاړ وفات
شۀ"-[5]

د دغه پورتنوحوالو مطابق امان اخون ګجراتي په
کال ۱۹۷۰ء کښې وفات شوے دے او د ګجرات په
مقبره کښې ئې د سړک په غاړۀ مزار دے-

د کلام نمونې ئې دا دي:

هر سړے د بل نه غوره خپل هنر ښائي
مقابل د پردي اس سره خپل خر ښائي
د بل ښۀ چاندي په مسو جسو بولي
او خپل مس او جس په ځاے د چاندي زر
ښائي
دا رښتيا دي ځان ته لاندې چا ونۀ
وئيل
خو هر يو سړے په بل سړي ځان بر
ښائي
ځان ته يو سړے ناپوهه چرې نۀ وائي
معمولي عقل په نورو معتبر ښائي
خپل د غرونو په شان لوے عېبونه پټ
کړي
بل کښې يو زره به عېب درته لوے غر
ښائي
اے امان ګجراتيه هغه ځان دے
الزامونه چې پندوکے په خپل سر

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28



شائي " (6)

## 2: ميرحمزالله

خپل نوم ئې مير حمزالله وۀ، خو په شاعرۍ کښې به ئې د ميرحمزه تخلص کاروۀ، نو په دغه وجه په علاقه کښې د ميرحمزه بابا په نوم مشهور وۀ- د سدهوم په ملندرۍ کلي کښې د نرالله په کور کښې په کال ۱۹۰۸ ء کښې پېدا شوے دے- وروستو ئې د ملندرۍ نه لنډي کلي ته کډه راوړه او دلته ئې استوګنه اختيار کړه- مير حمزه بابا واده کړے وۀ خو هېڅ نرينه اولاد ئې نه وۀ- اروا ښاد حمزه بابا يو ساده باده او خاکسار انسان وو د علاقه سدھوم يو مشهورو شاعرګڼلي شي -د دوي شاعري ساده او عام فهمه وه- شاعري ئې په عام اولس کښې ډېر مقبوله وه- مير حمزه باباد سدهوم پښتو ادبي جرګې په باني غړو کښې وۀ، د ستر شاعر عبدالرحمان بابا سره ئې بې کچه مينه وه- اکثر کلامونه ئې حمديه او نعتيه دي، رباعياني او معمه چاربېتې ئې هم ليکلي دي- د سدهوم د سيمې يو لوک داستان ئې د " دانش خان او عجمينه " په نوم په منظوم شکل کښې ليکے دے- چې په کتابي بڼه کښې شتون لري- د سدھوم د کلي په حجرو کښې اوس هم کله چې دموسيقۍ محفلونه جوړ شي، نو هنرمندان د هغه کلامونه په ډېره شوق او محبت سره وائي- په سدهوم علاقه کښې دوي ته د چاربېتې بابا خطاب ورکړے شوے وۀ، ځکه چې په خپل هم عصر شاعرانو کښې د چاربېتې ليکلو په فن کښې د دوي څوک ثاني نه وو-

يو ځل د رستم بازار په مينځ کښې بهېدونکے د "سرکاوۍ خوړ" کښې سيلاب راغے او ډېر زيانونه او تاوانونه ئې وکړل- دغه پېښه هم مير حمزه بابا په يوه چاربېته کښې "د سرکاوۍ په سر اسمان بريښي" کښې بيان کړې ده،دغه چاربېته خلقو ډېره خوښه کړه او تراوسه ئې خلق يادوي-

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28
ماخذ تحقیقی مجلہ

یوه بله چاربېته ئې هم " یوه شپه لاړم صحرا ته د ژوندي د مړي جنګ وۀ" په نوم لیکلي وه- دغه شان نوري یوشمېرچاربېتي ئې لیکلي وې- بابا ډېري سندري هم لیکلي دي چې په کښې یوه مشهوره سندره "موري بنجاري راغلي دے" ده- میر حمزه بابا په خپله رسمي تعلیم نه وۀ حاصل کړے نو خپل کلامونه به ئې په نورو لیکونکیو لیکل چې په دغه لیکونکیو کښې کښې یو سردار محمود سردار دے چې د هغوي کلامونه به ئې لیکل- دا ستر شاعر د اکتوبر د میاشتې په ۲۶ نېټه کال ۱۹۸۹ ء کښې وفات شو او په لنډي کلي کښې ئې یوولس بجې دَ شورو په ورځ جنازه وشوه، او د خپل کلي په مقبره کښې خاور ته وسپارلے شۀ-

د کلام یوه نمونه ئې دا ده-

"عبدالرحمان بابا په یاد کښې "

د پښتو ژبې عالمګیر او شاه جهان بابا
دنیا ته راشه یو ځل بیا عبدالرحمان بابا
که جوهریانو د دنیا لعل او جرهر جمع کړل
تاخواره کړي په جهان کښې سرۀ متیان بابا
لکه چې زۀ یم داسې ته په دې جهان اوسېدې
نن دې اولاړې دې خازې په ګورستان بابا
که یې نزدې بیا هم خبرې زما نه اورې تۀ
په ګز خاورو کښې یې د عمر بندیوان بابا
وخت د سپرلي دے نوبهار دے خو ته نه یې په کښې
ستا په باغونو کښې نعرې وهي طوطیان بابا
د زماني د شاعرانو افسوسونه واوره

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28
ماخذ تحقیقی مجلہ

نه هغه زمکه بدل شوي نه آسمان بابا
د گجرات په لاره خم راله ژړا راشي
اوښکي مي څاڅي چي رایاد کړمه امان بابا
میرحمزه وائي ستا شعرونه درگوهر پراته دي
هر یو بچے به د پښتون مني احسان بابا " (7)

## 3: رحیم گل بابا:

رحیم گل بابا هم د سدهوم دسیمي یو نوموړے شاعر وۀ- دا شاغلے په کال ۱۹۰۸ء کښي د توره باز کور کښي د سدهوم په نوي کلي کښي زیږیدلے دے- تعلیم ئي دومره نه وۀ حاصل کړے خو زیاته ناسته پاسته ئي د بزرگانو او عالمانو سره وه نو د دین نه شه واقف وۀ- الله پاک ورله داسي تخلیقي ذهن ورکړے وۀ- چي د کلام نه ئي قابلیت او علمیت څرگندیږي او د لوستونکیو گمان پري د لوے عالم راځي- په سوچه پښتو کښي ئي ډیر ساده او عام فهمه لیکل کړي دي- حمدیه او نعتیه کلامونه ئي د ستائیني وړ دي- اکثر کلامونه ئي حمدیه او نعتیه دي- ځیني شعرونه ئي تعمیري، اصلاحي او د پند او نصیحت نه ډک دي- یو کتاب "پته خزانه" ئي چاپ شوے دے-رحیم گل بابا د پي-ډبلیو-ډي په محکمه کښي نوکري هم کړي وه- په آخري عمر کښي په سترگو ړوند شوے وۀ- په ۱۴ اگست ۱۹۸۵ء کښي وفات شو، او د نوي کلي په مقبره کښي خاورو ته وسپارلے شۀ-

سلیم خان سلیم هم په خپل کتاب کښي لیکي دي:
"رحیم گل بابا رستم سره نزدے په نوي کلي کښي په کال ۱۹۰۸ء کښي پیدا شوے وۀ- د پلارنوم ئي توره باز وۀ- په څوارلسم اگست ۱۹۸۵ء کښي وفات شوے وۀ- شاعري اصلاحي او تعمیري رنگ لري-" (۸)

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28



د شعرونو نمونه ئي په دي ډول ده -

"ته رحمان ئي لويه ذاته زما ربه
رسوي روزي هرچاته زما ربه
"له الملک" بادشاهي تالره ښائيگي
بادشاهان محتاج دي تاته زما ربه
بې وزيره بې قاضي دي سلطنت دے
ته موجود ئي کل اشياء کښي زما ربه
په ظاهر او په باطن باندي قادر يې
رسوي مونږ تر نجاته زما ربه
په علاج مي ناعلاجه حکيمان شول
روغ صحت بخشش کړه ماته زما ربه
بې له تانه زما بله اسره نشته
څه به اوژاړم بل چاته زما ربه
رحيم گل نن غمزده دے او محتاج دے
امېدوار دے ستا رضا ته زما ربه" (9)

## 4: عبدالغفوراخگر

عبدالغفوراخگرچي د پلار نوم ئي گلستان وو په ۱۹۱۴ء کښي په طورو ضلع مردان کښي پېدا شوے دے- په کال ۱۹۴۲ء کښي ئي د طورو نه نقل مکاني اوکړه او د سدهوم په نوي کلي کښي مېشته شۀ- د تعليم په محکمه کښي ئي ملازمت کولو چي وروستو هم له دغي محکمي پنشني شو. او د نومبر په ۲ نېټه کال ۱۹۹۳ء کښي وفات شو،قبر ئي په مردان روډ د نوي کلي رستم په مقبره کښي دے.
منظوم کلام ئي د "عکسونه" په نوم د سدهوم ادبي جرگي له طرف نه چاپ شوے ے وۀ خو اوس ناياب دے-
د اخگرصېب د پند او نصيحت نه ډکه شاعري د هغوي د خپل اولس سره د مېني او محبت اظهار کوي- د خوږو خوږو دردونو خوږ احساس، د زړو زړو يادونو رنگا رنگ عکسونه ، د خپل شوکيدلي زړۀ ناقلاره درزا د حالاتو او مجبورو زړۀ غوڅونکي قصې، د وروکو لاروو د منزل نخښي د ناترسه حالاتو د گردشونو تيندکونه، د انتظار

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28

اوږدے اوږدے شوکیرې او د دلبر نازو او مسکے مسکے تصویر، آخر څه دي چې د دوي په شاعرۍ کښې ئې ځاے نه دے موندلے- څۀ شعرونه ئې د بېلګې په توګه دلته رانقل کوو:

"لکه د چتي دي قرار نشته
د خپله خويه دي فرار نشته
د سپلمۍ ملخ ئې شوم غلط دربانديې
د سرېتوب در کښې ګفتار نشته
د چرګ په څېر پنجې مشوکه وهي
بې د ورانې دې هډو کار نشته
غوږ در پورې دے منډې څه وهي
ستا په شان چرته بل هوښيار نشته
دوه درې خو نه دي ورته فکر اوکړه
ستا د غلطو خو هډو شمار نشته
واورۀ نادانه! اخګر تاته وائي
نور مې په تابانديې اعتبار نشته" (۱۰)

## 5: سېدنواب ماما:

سيدنواب ماما په کال ۱۹۲۶ء کښې په سدهوم رستم کښې د عبدالوهاب په کور کښې سترګې غړولې دي- د ورکوالي نه ئې د شعر او شاعرۍ سره مينه لرله، رسمي تعليم ئې نه وۀ حاصل کړے خو د علمانو او بزرګانو سره د ناستې پاستې په وجه ورله د پښتو ليک لوست ورتللو-د سدهوم پښتو ادبي جرګې رستم بنيادي غړو کښې شامل دے، په سدهوم کښې د پښتو ادب د پرمختګ دپاره د سيدنواب ماما خدمات نه هيرېدونکي دي- تر ډېره وخته د سدهوم پښتو ادبي جرګې مشرسېکتر او خازن هم پاتې شوے وۀ-

سليم خان سليم ليکي چې:

"سيد نواب ماما د پلار نوم ئې عبدالوهاب دے، په کال ۱۹۲۶ء کښې په سدوم کښې پېدا شوے دے-" (11)

د کلي د لويو او وړو په شريکه "ماما" وۀ، سيدنواب ماما به دومره خواږۀ خواږۀ، ترسکون

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28
ماخذ تحقیقی مجلہ

او مطلبي شعرونه وئيل چې د بنده به هډو دا يقين نه راتلو چې ګني ماما بې تعليمه سړے دے- شعرونه ئې اکثرطنزيه او مزاحيه وو کوم چې به اوريدونکيو ډير خوښول-

چاربېتې،نظمونه،غزلې، مزاحيه قطعې به ئې ډير په ښه انداز ليکلې- او هم د دې په وجه په خواوشا علاقو کښې ډير مشهور وۀ-

د سدهوم دا نوموړے شاعر د دسمبرپه ۱۲نېټه کال ۲۰۰۶ء کښې وفات شۀ-

د شعرونو نمونې ئې دا دي:

"په وار وار کوي اواز ګهړيال د عمر
دم په دم دي خبروي په حال د عمر
وائي بله ګنټه تېره ستا د ژوند شوه
سترګو رپ کښې دي تېرېږي کال د عمر
د غفلت د خوبه پاڅه ځان بېدار کړه
په رڼا ورځې دي لوټ شو مال د عمر
ځاے د ډېږ لګېدو ځان له صحيح کړه
درنګ ساعت له دي راشليګي ټال د عمر
د ماما خيال کښې لا هغسي جيني ده
د ليلي په زنه زوړ شۀ حال د عمر"(۱۲)

## 6: عارف نسیم:

عارف نسيم په کال ۱۹۲۹ء کښې د رستم په يوه علمي او ديني کورنې کښې پېدا شوے وۀ- د پلار نوم ئې حکيم مولانا ﷴ حسن وۀ- چې د دې علاقې يو لوې عالم او پوهه حکيم وۀ- مولانا ﷴحسن په رستم کښې مدرسه فيض الاسلام او مدرسه عربيه رستم هم جوړې کړې وې-

تعليم:

د ايم اے عربی او ايم اے اسلاميات سره ئې په عربي لسانياتو کښې د رياض يونيورسټی نه دماسټر ډګري هم ترلاسه کړې وه. د سندھ يونيورسټی نه د ډاکټريټ ډګري اخستې وه- د ډاکټريټ موضوع ئې په صوبه سرحد کښې د عربي

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28


ادب دے۔ د درس و تدریس د پېښې سره ئې تعلق لرلو۔ د عربی او انګریزی ژبود نوي لسانیاتو د تدریس وسیع تجربه ئې لرله او د دې ژبو استاذانو ته به ئې تربیت هم ورکولو۔ د پاکستان په څلورو واړوۀ صوبو کښې ئې شاګردان لرل۔ په ۵ جون ۲۰۱۲ء کښې ئې د دې فاني دنیا نه کوچ کړے دے۔

په تصانیفو کښې ئې د یو څو نومونه دا دي:

"ایک سورج،چار چاند اور ان گنت تارے،کہکشاں انوار،Flower and Flames،اسلامیات لازمي برائے ڈگری کلاسز،اسلامیات اختیاری برائے ڈگری کلاسز،د قیصده برده په پښتو،اُردو،فارسی او انګریزی کښې منظومه ترجمه وغېره.

په اُردو او پښتو دواړو ژبو کښې جدا جدا دپښتو اکېډمۍپېښور لۀ خوا د دوي کتاب " په پښتو ژبه کښې دیني خدمت" چاپ شوے دے۔ دا کتاب د علمي تحقیق اعلي نمونه ده. په ریاض یونیورسټۍ کښې د دوي ضخیمه مقاله په عربی ژبه کښې د پینځو ژبو (عربي،پښتو، انګریزی،اُردو او فارسی) صرفي نحوي او صوتي موازنه ډېره خوښه شوې او یونیورسټۍ په خپله لائبریری کښې محفوظ ساتلې ده. د یران حکومت دوي ته په یوه مقاله " د اسلامي علومو په فروغ کښې د عجمیانو حصه" باندې انعام او سرټیفیکېټ هم ورکړې وو۔

د" تنقیدځانګې" د تنقید د اصولو په حقله هم دوي یو کتاب لیکلے وۀ.

د پښتون،افغان،پښتو،اباسین،اولس په ډېرو ګڼوکښې د دوي ادبي او علمي مقالې چاپ شوي دي۔

یو غزل ئې د نمونې په توګه دلته وړاندې کوم:

"څه خبر دي معشوقې چې وینې سرې څښې
ګونه زیړه د عاشق، تشې اسرې څښې
هسې نه ده چې به زۀ په دې خفه یم
ولې څه اوکړم چې یار ئې بې مزې څښې

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28
ماخذ تحقیقی مجلہ

د یو ځاځکي چې ارمان کړم ګناهګار شوم
مخوریز او معتبر دي چې کاسې څښي

د اشنا خیال څومره خوږ دے نور افشان دے
دا خو شمع ده د لرې نه تیرې څښي

دا اشنا راځي، قمیص که د یوسف دے؟
په هر لور ئې ورمې لاړې فاصلې څښي

اشنا کله د خپل **حسن اثر وینې**
**پلوشې د نمر راوختې ذرې څښي**

**جدائي شوه، مزه لاړه، رنا لاړه**
**د تیرې نیلې په زغل دې پلوشې څښي**

**"نسیم" راغے د ښکلا په باغ ورګډ شۀ**
**بختور دے په مزه مزه ورمې څښي"**[13]

## 7: قیاس ګل بابو:

قیاس ګل بابو په کال ۱۹۳۰ء کښې په رستم کښې د رحیم ګل کره زیږدلے دے۔د سدهوم پښتو ادبي جرګې په باني غړو کښې دے۔ تر ډیر وخته د یادې جرګې صدر او د مجلس عاملې چیرمین پاتې شوے دے۔ د جنوری د میاشتې په وویشتمه نېټه ۲۰۰۸ عیسوي کښې وفات شوے دے۔
قیاس ګل بابو د سدهوم د ادبي اسمان یوځلنده ستورے وۀ - د پستوپستو او نرمو نرمو تکوجوړښت کښې ئې د خیال دومره ژورتیا او رنګیني ده، چې بنده د دۀ د شعرد فن په استازی حیران پاتې شي- لکه د پسرلي ئې د شاعرۍ لمن د هر یو رنګ نه برجغه ده او لکه د پسرلي په ارت مټ خپل رنګونه په سمه او غرونوشیندي، د بابو خواږۀ خواږۀ شعرونه چې په زړۀ تکور تکور لګي

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28
ماخذ تحقیقی مجلہ

اوریدونکي د دنیا د غم نه میلونه دومره لرې بوځي لږ ساعت له خو جهان څه چې ځانه هم ناخبره شي۔

د شعرونه یوه بېلګه ئې دا ده:

"اُور د خپله تنه زۀ په هر یو مقام اخلمه
رنګ رنګ تهمتونه چې د کلي او قام اخلمه
وایه نابالغي دا د کومې کوډې کړې دي
لا په وروستو ځمه ستا طرف ته څه ګام اخلمه
پوهه دے د مینې کرامت کړمه چې زهر دي
بیا هم ښۀ په مینه د لاسونو دې جام اخلمه
ستا په تماشه مې د اجل فرشته ځي خو ځي
وائي چې خبر به دي سحر او ماښام اخلمه
زۀ چې قدم ږدم په تشه ډاګه زړۀ مې سوزي پرې
ستا په شان خو نه یم چې خونونه مدام اخلمه
چاته چې د مینې راز ښکاره کړم قیاس ګل وائي
مخ په مخ سپیړې ترې د ټسه انعام اخلمه" (۱۴)

## 8: رضوان شاه رضوان:

خپل نوم ئې رضوان شاه دے- تخلص ئې د نوم یو حصه یعني رضوان دے- د جولائې په ۶ نېټه کال ۱۹۴۲ءکښې د مکرم شاه په کور کښې هېراونډ پېدا شوے دے- ابتدائي تعلیم ئې د مدرسه فېض الاسلام رستم نه حاصل کړے دے - اللہ پاک ورله ښائېسته

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28


اواز هم ورکړي وۀ او ډېر ښه ترنم به ئې هم کولو، د پښتو ادب سره ئې مينه د ورکوټوالي نه وه- په ۱۹۵۳ء د طالب عملی په زما نه کښې ئې په مدرسه فيض الاسلام کښې د نعت خوانی په محفل کښې حصه واخسته او ډېره ښۀ نعت خواني ئې وکړه او د محفل د ګډونوالو نه ئې پرې ډېر داد واخستو- دې نه پس ئې د ادب سره مينه نوره هم زياته شوه او د يوه شاعر شکل ئې اختيار کړۀ- شعرونه به ئې جوړول او بيا به ئې په خپله په ترنم کښې وئيل- سبق سره ئې ډېره مينه نه وه نو په اتم ټولګي کښې ئې سبق پرېښودۀ- او د زرګری کار ئې شروع کړۀ او لکه د شاعری ئې په زرګری کښې هم ښۀ مهارت حاصل کړۀ- په ۲۰ جولائي ۲۰۱۰ء کښې ئې د دې فاني دنيا نه کوچ کړے دے- او د رستم اسلام آبادمحلې په مقبره کښې ئې مزار دے-

دوه شعري مجموعې ئې چاپ شوي دي چې د يوې نوم "احساسونه په سلګو" دے کومه چې په غزلو، نظمونو ،رباعيانو، نعتونو او سندرو اړانه لري،اودويمه د "پيرزوئني" په نوم چاپ ده،چې په کښې د پښتو ژبې ۹۹ ارواښاد شاعرانو او ليکوالو ته په منظوم شکل کښې دعقيدت پيرزوئني وړاندې شوي دي. په دغو کښې صنوبرحسېن کاکا جي،دوست ﷴ خان کامل،مولانا عبد القادر، ماسټرعبد الکريم ،حسن خان سوز،مصري خان خاطر،فضل حق شيدا ،قاضي عطاء الله، ايوب صابر،عبد الواحد ټهيکدار،ميابهادرشاه ظفر،قلندرمومند،ډاکټرامين الحق،ليطف وهمي، رومان شاه ساغر،حاجي ﷴ آمين،علي حيدر جوشي،رحيم ګل بابا،مولانا حبيب الرحمن بشمول نور شاعران هم شامل دي. چې نمونې ئې دا دي:

"جګه ئې شمله وه بت ئې مات نه شو، ليک د صنوبر وۀ خومره ښکلے وۀ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28


دوست د محمدؐ چې شو کامل شولو، زړۀ د پېښور وۀ
خومره ښکلے وۀ
لاړو مولانا پښتو پرې خواره شوه، خُله کښې ئې
اثر وۀ خومره ښکلے وۀ
پاتې ئې خولې خولې گلونه شو، ښه پوهه
ماسټر وو خومره ښکلے وۀ
خوږ لکه گبين وۀ د خاطر غزل ونۀ کښې
ثمر وۀ خومره ښکلے وۀ
يو شيدا شيدا وۀ په پښتو ژبه، ښه
قامي رهبر وۀ خومره ښکلے وۀ
هغه په تاريخ باندې مئين قاضي تلے مر ور
وه خومره ښکلے وۀ
فن ئې پښتونخوا ټوله سيرابه کړه، هغه يو
سمندر وۀ خومره ښکلے وۀ
څه شو تهيکدار چې د چاربيتې وۀ، دے يو ښکاره
نمر وۀ خومره ښکلے وۀ
وۀ چې د خپل فن د تقدس امين دا امين ډاکټر
وۀ خومره ښکلے وۀ
وهم له وهمې علاج اونۀکړلو، دے مې د زړۀ
سره وۀ خومره ښکلے وۀ
فن سره انصاف رحيم گل کړے وۀ جټو کښې
افسر وه خومره ښکلے وۀ
هغه د سدوم د حبيبي خالق لوے د علم غر وۀ
خومره ښکلے وۀ "[۱۵]

د غزل يو نمونه ئې دا ده:

"دومره حصار شه چې دې دلته د پښو
پل پاتې شي
چې مې په زړۀ کښې ستا د مينې مشال
بل پاتې شي
نورکه مې سر ځي که مې مال ځي په
اتاله نه يم
بس د کتو به دې په ما باندې بدل
پاتې شي
دا چې محفل رنا رنا دے دغه ستا د
وجې

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28


چې تهٔ ترې لاړ شې څه مزه به د محفل شي پاتې
رقيب ظالم دے تور په ما او هم په تا لګوي
په دې سبب به زما ستا مينځ کښې خلل شي پاتې
چې دومره زر وائې بس څمه نو بيا سود د څه شو
زما په زړهٔ به د پخوا په شان زلزل شي پاتې
دنيا فاني ده په کښې ټول عمر استوګنه نشته
چانه جونګړه چانه دې ځاے کښې محل شي پاتې
نه به رضوان نه ترنم نه به ئې قلم وي همېش
ليک په کتاب کښې به ئې د غم نه ډک غزل شي پاتې " (16)

## 9: عثمان الدين عثمان :

اروابناد عثمان الدين عثمان د جنورى د مياشتې په ورومبى نېټه کال ۱۹۴۳ء کښې د سدهوم په هېراوند نومې کلي کښې د احسان الدين کره پېدا شوے وۀ- د خپل وخت د ديني عالمانو نه ئې ابتدائي زدکړه کړې وه- ډېر تعليم يافته نه وۀ خو لېک لوست ئې ښۀ په راستې کولے شۀ- د عربى او پښتو د ګرامرښۀ پوهه ئې لرله، ډېر زيرک او نابغه شخصيت وۀ- د ډېر لږ وخت د زړۀ په ناروغتيا په يو ناګهاني مرګ له دې فاني دنيا نه د اکتوبر د مياشتې په ۱۰ نېټه کال ۲۰۱۵ء کښې هغه ابدي جهان ته په اوږد سفر لاړو او د خپل کلي په لويه مقبره کښې خاورو ته وسپارلے شۀ-
اروابناد عثمان يو ډېر ساده باده ، خنده رويه ، نرم مزاجه ، خوش طبع او ملنسار شخصيت

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28
ماخذ تحقیقی مجلہ

وۀ،انکساري او خاکساري ئې په حمیر کښې اخلي شوي وه- دَ وړو سره وړوکے او لویو سره لوے وۀ-
اروا ښاد عثمان دَ روماني فکر سختن وۀ- دَ هغوي شمار دَ سدهوم پښتو ادبي جرګې رستم په بنسټ کېښودونکي شخصیاتو کښې وۀ- هغوي خپلې ادبي اړیکې تر مرګه دَ دې جرګې سره ټینګې ساتلې وې- "سدهوم ته پسرلے دے" دَ اروا ښاد عثمان الدین عثمان یوه خوندوره شعري مجموعه ده چې دَ هغوي دَ مرګ نه وروستو دَ هغوي ځوي اکرام الدین اکرام په ۲۰۲۰ء کښې چاپ کړې ده۔
د غزل یوه نمونه یې دا ده:

"پاتې زما وجود کښې وینه نۀ شوه
مینه هم هغسې لا مینه نۀ شوه
زۀ ئې فرهاد د تورو غرونو کړمه
ولې هغه زما شیرینه نۀ شوه
پته د زړۀ تیارو کښې پاتې شوله
د محبت خبره سپینه نۀ شوه
مینې ئې بوتلمه د دار ترسره
خبر په حال مې نازنینه نۀ شوه
ماپرې د عقل تیلې ډېر ووهل
زما د بخت ډیوه رنګینه نۀ شوه
عثمانه ډېر سپرلي پرې لاړو راغلو
مینه د ژوند دې ګلورینه نۀ شوه" (۱۷)

## 10: فضل اکبر نشتر:

فضل اکبر نشتر چې د پلار نوم ئې غلام نبي دے په کال ۱۹۴۹ء د سدهوم په بېکړو کلي کښې پېدا شوے دے- تعلیم ئې ایم اے، بي ایډ وۀ- په مختلف ګورنمنټ سکول کښې ئې د استاذ په حېث خپلې ذمه وارۍ ترسره کړې دي۔ په ۲ اپریل ۲۰۱۹ء کښې وفات شوے دے-
فضل اکبرنشتر د سدهوم پښتو ادبي جرګې د صدرنه علاوه د ګڼړو فلاحي او سماجي تنظیمونو صدر هم پاتې شوے وۀ- دخپل کلي او د خواوشا علاقو د

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28
ماخذ تحقیقی مجلہ

اولس د خېرښېګړې په کارونو کښې به ئې په تنظیمي سطح او په ځاني سطح پوره برخه اخستله- که یو طرف ته ئې د علم د رڼا په پلوشو د نوي کهول ذهنونه منور کول- نو بل خوا یو ښه لارښود او رهبر هم وهٔ-

منظوم کلام ئې د "خار او ګلزار" په نوم چاپ شوے دے-

په ادبي سرګرمو کښې ډېر ورانده وهٔ او د پښتو ژبې خدمت ئې د ژوند یوه لازمي حصه ګرځولې وه-

فضل اکبر نشتر د خپل تس نس پښتون وحدت،دخوراُور قومیت، او د بې وسه مظلوم درد د خپلې شاعری موضوع ګرځولې ده- کله کله ئې د غمِ دوران سره سره غمِ جانان هم په شعر کښې ځاے کړے دے. د کلام څه برخه ئې د نمونې په توګه دلته نقل کوو:

"غشي د زړهٔ نه مې اوباسه لروبر د نظر
په ارزوګانو مې محشر کړه په هنر د نظر
خونکارو سترګو دې ګائل په زړهٔ دننه کړمه
اوس دې مسکا نمک ریزي کړي په پرهر د نظر
سترګې به ولې ستا رضا ته نېغې نه نیسمه
ستا د جمال طواف کول مې دي په سر د نظر
ښکلیه ځان ته په ائین کښې تماشې مه کوه
چرته ښکلا باندې دې اونه شي اثر د نظر
خوش فهمه خیال مې د وصال زرګے هر دم تختوي
خورمه قسم که یو ګهړی مې ئې بهر د

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28

نظر
تمامه شپه سر په پېکار یم ستا یادونو سره
په مالګو وینځمه زخمونه هر سحر د نظر
د عمر سترې لاروے به په کښې ځان لټوم
یم مسافر که دي دلبر لري کړو ور د نظر
شوقِ دیدار کښې کېفیت د دي نشتر اووینه
وار ئې خطا رنګ ئې زعفران دو ئې اوتر د نظر" (۱۸)

## 11: شمس الرحمان چشتي

شمس الرحمان چشتي د سدهوم په علي نومي کلي کښې د حمید رسول کرۀ په کال ۱۹۵۹ء کښې پېدا شوے دے ـ تعلیم ئې نه وۀ حاصل کړے ـ ساده باده زمیدار سړے وۀ ـ ولې شاعري ئې ډېره خوندوره او رنګینه وه- زیاته شاعري ئې په حمد، توحیدي نظمونو او چاربیتو مشتمله ده. کله کله به ئې غزل ته هم پام شو اوغزل به ئې ولیکلو- خلقو د دوي طرز او کلام دواړه ډېر خوښول-

چشتي صېب یو نظم "سدهوم ته پسرلے دے"په نوم لیکلے ووچې ډېر مشهور شوے وۀ- په دغه نظم کښې ئې د سدهوم د ډېرو کلیو او باندو ذکر کړے وۀ- د دغه نظم وړومبے مصرعه وه- "سدهوم ته پسرلے دے"، دي نه علاوه ئې نور هم ډېر نظمونه، حمدیه کلامونه او چاربېتې ئې لیکلي دي-

د نومبر په ۱۱ نېټه کال ۲۰۱۲ء کښې شمس الرحمان چشتي د دي فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې اود علي کلي په مقبره کښې خاورو ته وسپارلے شو۔

د شعرونو څو ئې نمونې دلته راوړم:

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28



"د بورا کار دغه دے تول عمر بوستان پسې ځي
چې وې عاشق مادم د خوږ زړګي درمان پسې ځي
بېلتون دباو چرته په توقو په عاشق کړے دے
ورځي ګيلې له ساه نيولے په جانان پسې ځي
د عاشق کار د چا په غم او په ښادی کښې نه وي
چې معشوقه ئې چرته وي هغې مکان پسې ځي
ورته نابوده ښکاري ځکه ئې په ګتانو وولي
واړه د کلي، ليوني د بيابان پسې ځي
مينه بجلي ده غم ئې بل دے چې بجلي بلوي
د بل تاوان به خامخا دغي انسان پسې ځي
مقدمه ئې په دوتر د محبت کړي ده
بس انتقال به ئې په چشتي شمس الرحمان پسې ځي" (19)

## 12: نذیر یوسفزے :

ښاغلے نذير يوسفزے دَ سدهوم په ادب پروره سيمه کښې په ۲ فروری ۱۹۶۴ء کښې دَ ارواښاد حاجي زرين ګل په کور کښې زېږدلے وۀ - ابتدائي تعليم ئې دَ مدرسه فېض الاسلام رستم نه حاصل کړۀ او لسم ئې دَ ګورنمنټ هائي سکول رستم نه پاس کړۀ- ګرېجوېشن ئې دَ پوسټ ګرېجوېټ کالج خېبر آباد نه وکړۀ- دَ پېښور پوهنتون نه ئې د ايم اے جرنلزم ، ايم اے هسټري او په پښتو ادب کښې دايم اے ډګری واختسې - د ملازمت ابتداء ئې د محکمه پوليس نه وکړه اود خپل قابليت اواعلي

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28
ماخذ تحقیقی مجلہ

صلاحيت په وجه د ډي ـ ايس ـ پي تر وعهدې ورسېدۀ چې څه موده وړاندې هم په دغه عهده ريټائرډ شوے وۀ ـ دَ ادبي ژوند پېل ئې په کال ۱۹۷۷ء کښې کړے وۀ- ښاغلے نذير يوسفزے دَ سدهوم د ادبي اسمان يو ځلنده ستورے وۀ، د ادب محفلونه به پرې روښانه وو- د سدهوم په شاعرانو کښې ئې يو ځانګړے مقام لرلو- د"سدهوم پښتو ادبي جرګې" سېکټر او صدر هم پاتې شوے دے، د دوي په زيار او کوششونو په سدهوم کښې ګڼ شمېر مشاعرې او غونډې تابيا شوي دي، چې په کښې "سدهوم ته پسرلے دے" کليزه مشاعره به هر کال کېدله- دَ ښاغلي نذير يوسفزي دَ شاعرۍ دوه مجموعې د " ګلرنګ" او " نغمه ګر" په نوم چاپ دي-

دا ښاغلے د فرورۍ په ۴ نېټه کال ۲۰۲۵ ء کښې وفات شو- ماښام ۵ بجې يې په فېصل آباد رستم کښې جنازه وشوه او د فېصل آباد په اديره کښې خاورو ته وسپارلے شو-

د کلام نمونې ئې د هغوي د کتاب "نغمه ګر" نه دلته وړاندې کووم.

"د شر او د فساد جوړه د جنګه زمانه ده
دا خلق شو بدرنګ کۀ دا بدرنګه زمانه ده
انسان شۀ د انسان د وينو تږے چې دا ولې
جامې ئې د بارود شوي دا لا څنګه زمانه ده
سکون او من نشته هم بدنام شو هم لېلام شو
په دغه يو خبره رانه تنګه زمانه ده
هم ورور کوي د ورور د سر سودا په سپينه ډاګه
دا څومره بې ننګي شو څه بې ننګه

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28
ماخذ تحقیقی مجلہ

زمانــه ده
دا رنـګ پـه رنـګ پـتـکي د سر نـه کـوز کـړئ ملايـانـو
پـه يـو دوه کښې حېـران يـو پـه څـو رنـګـه زمـانـه ده
دا زړونـه د دي خـلـقـو شـو مـاړهٔ سم د يـو بـلـه
نـذيـره څـهٔ بـې خـونـده او بـې رنـګـه زمـانـه ده "[20]

څـنـګـه چـې پـه شـروع کښې ووئـيـلـي شـو چـې د سدهـوم عـلاقـه د ادب پـه لـحـاظ سره ډيـره زرخيـېزه ده د سدهـوم دي زرخيـېزه زمـکـي رنـګـا رنـګ ادبـي ګـلـونـه سپـړدي دي کـوم چـې پـه خـپـل وخت د سدهـوم د ادبـي ګـلـدسـتي شکلا وه او اوس د خزان بـادونـو رژولـي دي او د سدهم پـه اديـرو کښې خـواره واره پـراتـه دي- پـه دغـه اروابـادو شـاعـرانـو کښې، امـان اخـون ګـجـراتـي، اميـرحمزه بـابـا د لـنـډي ،رحيم ګـل بـابـا،عبـد الـغـفـوراخګـر، سيـدنـواب مـامـا،عـارف نـسيـم،قـيـاس ګـل بـابـو، رضـوان شـاه رضـوان،عـثـمـان الـديـن عـثـمـان،فـضـل اکـبـر نـشـتـر، شمس الـرحمـان چشـتـي، نـذيـر يـوسـفـزے هـم شـامـل دي- چـې پـه دي لـنـډه څـېړنـه کښې د دغـو شخصيـاتـو لـنـډه پـېژنـدګـلـو، ادبـي خـدمـات او د کـلام نـمـونـې وړانـدې شـوي دي- .زهٔ د دې څـېړنـې اخـتـتـام پـه دي شـعـر کـوم چـې:

"مـړهٔ هـغـه چـې نـه يـې نـوم نـه يـې نـشـان وي
تـل تـرتـلـه پـه ښـه نـام پـايـې ښـاغـلـي"

****

حـوالـې

١. نـسيم ، اصـغـرخـان،پـروفـېسر،تـاتـره رسـالـه ،نـورالله پـرنـټـنګ پـريـس،جـي ټـي روډ پـېښـور،د مـبـطـوعـاتـوسلسلـه شـپـږڅلـوېښتـمـه ، اپـريـل- جـون ٢٠١١ء

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28



٢. د څلورم ټولګي د پښتو کتاب، سبق "اولسي شاعران"،خېبرپښتونخواټېکسټ بُک بورډ پېښور
٣. ګجراتے امان، تالیف کونکے فرزندعلي ،کلام اخون،ارټ پوائنټ پېښور، د چاپ کال ٢٠٢٢ء
٤. نسیم ، اصغرخان،پروفېسر،تاتره رساله،نورالله پرنټنګ پرېس،جي ټي روډ پېښور،د مبطوعاتوسلسله شپږڅلوېښتمه ، اپرېل- جون ٢٠١١ء
٥. فرزندعلي،زما د بابا امان بېګ اخون(یادونه اواثار) ، د چاپ ځاے ارټ پوائنټ پېښور،کال ٢٠٢٣ء
٦. ګجراتے امان، تالیف کونکے فرزندعلي ،کلام اخون،ارټ پوائنټ پېښور، د چاپ کال ٢٠٢٢ء
٧. دسدهوم انګازې، تاج پرنټنګ پرېس پېښور، د چاپ کال ١٩٩٠ء
٨. سلیم،سلیم خان،زۀ به دومره مینه درکړم،مرکه خپرندویه ټولنه مردان،دچاپ کال ٢٠١٨ء
٩. دسدهوم انګازې، تاج پرنټنګ پرېس پېښور، د چاپ کال ١٩٩٠ء
١٠. هم دغه اثر،مخ١٥١
١١. سلیم،سلیم خان،زۀ به دومره مینه درکړم،مرکه خپرندویه ټولنه مردان،دچاپ کال ٢٠١٨ء
١٢. دسدهوم انګازې، تاج پرنټنګ پرېس پېښور، د چاپ کال ١٩٩٠ء
١٣. هم دغه اثر،مخ ٣١
١٤. هم دغه اثر،مخ ٣٨
١٥. رضوان،رضوان شاه ،پیرزوئني،ظفرګرافکس اینډ پبلشرز مردان، د چاپ کال ٢٠٠٦ء

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-28
ماخذ تحقیقی مجلہ


١٦. رضوان،رضوان شاه ،احساسونه په سلگو،منظور عام پریس، د چاپ کال ۱۹۸۹ء
١٧. عثمان، عثمان الدین، سدهوم ته پسرلے دے، زیب آرټ پېښور د چاپ کال نه لري-
١٨. دسدهوم انگازې، تاج پرنټنگ پریس پېښور، د چاپ کال ۱۹۹۰ء
١٩. هم دغه اثر،مخ۱۰۶
٢٠. یوسفزے، نذیر، نغمه گر، سنگر پبلي کېشنز مردان، د چاپ کال ۲۰۲۱ ء